سنگروال  ۲۰۱۹/۰۷/۱۱

# و طن

وطن خو د مور غېږ ده،  هر انسان دې پکې اوسي
که موږه پکې نه یو دا یاران دې پکې اوسي

د ستورو ننداري دې وي د بام د سر بلې هم
لمر مي دې رنګین وي خپل اسمان دې پکې اوسي

لا اوس هم د آباد پسرلي هر داستان را یاد دی
همغسې یو شړقنده باران دې پکې اوسي

ماښام دې پکې نه وي توري وربځې دې سر وخوري
چې کرکې کړي په مخه ستر توپان دې پکې اوسي

د شپو له بغاوت  سره  ترخې شېبې  په  لاره
د ښکلو رڼاګانو، لارویان دې پکې اوسي

دا خوږ ښکلی وطن لکه خپل تن را غاړه وتی
بېخي لکه جانان غو ندې، جانان دې پکې اوسي

له ما خو وچکالي د موسمونو وه را تاوه
زلمي دې شي وختونه او ځوانان دې پکې اوسي

دچا بدرنګې ګوتې دې ګرېوان ته نږدې مشه
د هر ستړي ، بېوځله لوی  ارمان دې پکې اوسي

د حسن هر قاتل دې خدای په دواړو سترګو ړوند کړي
وطنه چې تا ځان ګڼي، دا ځان دې پکې اوسي

رنګونه دې تت مشه پسرلی دې شي درغاړې
غوټۍ دې پکې اوسي او ګلان دی پکې ا وسي

را واړوئ له غرونو سنګروال ښکلي وطن ته
ملنګ غوندې ریبنکۍ ګرېوان دې پکې اوسي

3/3/1398لندن



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ